Der Ehrentag
Für dich. Für uns. Für alle.

# د "Ehrentag" په لمانځلو کې له موږ سره یوځای شئ!

## د مې درویشتمه زموږ، ستاسو او د هرچا لپاره د " دیادونې ورځ " ده.

**د کمپاین موده:**
**د می له ۱۶ څخه تر می ۳۱، ۲۰۲۶ پورې**

"د یادونې ورځ " زموږ د اساسي قانون د کلیزې د لمانځلو لپاره د ټول هیواد په کچه د ګډون یوه نوې ورځ ده، چې د ولسمشر فرانک والټر شټاین مایر په نوښت پیل شوې ده.

د جرمني کلمه "د یادونې ورځ " د یو کس د زیږون یا د نوم ورځې لپاره بله اصطلاح ده. دلته اشاره اساسي قانون او همدارنګه د یادونې مفهوم ته ده: د ټولنې د ښېګڼې او پرمختګ لپاره کار او خدمت د درناوي وړ دی.

### دیادونې ورځې اصلي انګیزه څه ده؟

ډیموکراسي د خلکو په ګډون ولاړه ده. نو د اساسي قانون د لمانځلو لپاره، موږ ټول باید لاسونه سره یو کړو او په جرمني کې یو څو ساعته په داسې کار تیر کړو چې زموږ هیواد یو څه ښه کړي. خو پام او تمرکز باید پر تفریح او ټولنیز یووالي باندې ولګول شي.

دا ځانګړې ورځ خلک سره راټولوي – پرته له دې چې د هغوی عمر، استوګنځی یا اصل څه وي. د عامه ګټې لپاره کار کول زموږ دا باور پیاوړی کوي چې موږ کولی شو خپله نړۍ جوړه کړو. دا په ټولنه کې باور ته وده ورکوي او په دې توګه ډیموکراسي ژوندۍ ساتي.

### په دې توګه، هرڅوک کولی شي ګډون وکړي.

له موږ سره یوځای شئ! د ګډون لپاره بېلابېلې لارې شتون لري:

تاسو کولی شئ په هغو فعالیتونو کې چې ستاسو په سیمه کې د چا لخوا تنظیم شوي وي او یا آنلاین برخه واخلئ. تاسو کولی شئ د دې فعالیتونو ډېری یې د "ګډون موندونکي" په وب پاڼه www.ehrentag.de کې ومومئ. د ګډونوالو نوم لیکنه شمېر هره ورځ مخ په زیاتېدو دی.

تاسو پخپله هم کولی شئ یو فعالیت تنظیم کړئ او د ګډون موندونکي ته یې ور اضافه کړئ. تاسو دا کار هر وخت، وړیا کولی شئ.

له خپلو ملګرو او پېژندګلویو سره خبرې وکړئ – په خپله ټولنه کې، په خپل کار ځای کې یا په خپلې سیمې کې. تاسو تل د څه شي د ښه کولو هیله درلوده؟ نوي اړیکې جوړول؟ د ژبې، موسیقۍ یا کلتور په اړه د نظرونو تبادله؟ تاسو کولی شئ یو ورزشي ټورنمنټ، د پاکولو کمپاین، د مطالعې غونډه یا د سړک پر سر جشن هم تنظیم کړئ. کیدای شي یوه غونډه چې تاسو لا دمخه پلان کړې وه، مناسبه وي؟

هر کوچنی اقدام چې همبستګي او ټولنیز روحیه پیاوړې کوي، د هرکلي وړ دی.

او نورو ته د ګډون بلنه ورکړئ. تاسو کولی شئ د پلان جوړونې ګټور وسایل او ډیری غوره مثالونه - په جرمني او انګلیسي ژبه - په www.ehrentag.de ویب پاڼه کې ومومئ. همدارنګه تاسو کولی شئ خپلې کړی په مختلفو ژبو کې هم خپاره کړئ. پیښې باید د 2026 کال د می د 16 او 31 ترمنځ ترسره شي.

## تر ټولو مهمه خبره: ګډون اختیاري دی او باید خوندور وي!

Der Bundespräsident

Deutsche Stiftung
für Engagement
und Ehrenamt

"دیادونې ورځ" د جرمني ولسمشر او "د ګډون او رضاکارانه کار لپاره د جرمني بنسټ" ګډ نوښت دی.

نیټه: د مارچ ۱۸، ۲۰۲۶